بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۴۴ گڼه سلواغه ۱۴۰۳ :شماره (۴۴) دلو ۱۴۰۳ :صفحه اول:لومړی مخ



# عودت راستنیدنه
هفته نامه اونیزه

د دې لپاره چې علماءْ حق ووايي او دهېڅا تراغېز لاندې رانه شي، نو مدرسې او منبرونه باید آزاد او خپلواک پاتې شي.
شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني

## د کډوالو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر په بېلابېلو ناستو کې د پنجشیر او بغلان ولایتونو له یو شمېر علماي کرامو او قومي مخورو سره وکتل.



د پیل په ناسته کې د پنجشیر مخورو او علما کرامو له ولسونو سره د اسلامي امارت له لوري د همکاریو او د دوی د غږ اورېدو له امله مننه وکړه او زیاته یې کړه چې په پنجشیر کې د اسلامي امارت له بریا وروسته ګڼ شمېر ولسي شخړې او دوښمنۍ له منځه تللې دي.

د دغو علمای کرامو او مخورو په وینا ، چې له اسلامي نظام سره مخالفت او نیوکې د پنجشیر د ولس د ارادې ښکارندويي نه کوي او په هېواد کې د جګړې پای ته رسیدل او اسلامي نظام د ولس لویه هیله وه.

راغو مخورو او علماو همدارنګه یو لړ ستونزې د حل په موخه له محترم وزیر سره شریکې کړل.

دغه راز د بغلان علماو په یاد ولایت کې د حکومت او ولس پر اړیکو خبرې وکړې او له اسلامي نظام سره یې د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړ.

محترم مولوي عبدالکبیر د پنجشیر او بغلان علماي کرامو او قومي مخورو ته د ښه راغلاست پر مهال وویل، چې په هېواد کې د اشغال له پای ته رسیدو وروسته جګړه او تاوتریخوالی د توجیه وړ نه دی او اسلامي نظام هڅه کوي څو افغانستان له نړۍ سره سیال کړي.

ښاغلي وزیر زیاته کړه، چې قومي مخورو او علما له حکومت سره د نظام په پیاوړتیا کې رغنده ونده لوبولی شي او اسلامي امارت د هغوی هڅو ته د قدر په سترګو ګوري.

د ناستې په پای کې محترم مولوي عبدالکبیر یادونه وکړه، چې اسلامي امارت له ممکنو لارو ولس ته د خدمت او اسانتیاوو برابرولو هڅې کوي.

## فرمانده امنیه ولایت پنجشیر، با وزیر امور مهاجرین ملاقات نمود



قاری احمد الله بدر، فرمانده امنیه ولایت پنجشیر، با مولوی عبدالکبیر وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان، دیدار نمود.

در این دیدار که در دفتر کاری وزیر امور مهاجرین صورت گرفت آقای بدر از وضعیت امنیتی و اجتماعی آن ولایت معلومات را ارایه و از همکاری اش در جهت رفاه و آسوده گی بیشتر مردم در آن ولایت اطمینان داد.

وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان در جهت آرامش بیشتر مردم از زحمات و تلاش های مسوولان در آن ولایت ستایش نموده وازسعی بیشتر آنان برتقویت پیشرفت دربخش های اقتصادی، اجتماعی،همکاری و هما هنگی میان مردم و حکومت تاکید نمود.

## د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر، په جلا جلا ناستو کې د خوست، پکتیا او لغمان ولایتونو له یو شمېر علماوو، قومي مشرانو او مسؤولینو سره وکتل.



په دغو ناستو کې د یادو ولایتونو استازو د خپلو سیمو د عمومي وضعیت، امنیتي او ټولنیزو چارو او د ولسي همکاریو پر مختلفو اړخونو بحث وکړ او خپلې ستونزې یې ورسره شریکې کړې.

راغلو مسوولینو وویل، تېر شل کلن جهاد یو دروند مزل و، خو الحمدالله افغان مجاهد ولس د الله تعالی په مرسته په بریالیتوب سره ترسره کړ او اوس به د خپل ولس د ستونزو د حل او اسلامي نظام د پیاوړتیا لپاره خدمت ته چمتو دي.

د کډوالو او راستنېدونکیو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر، د علماوو او قومي مشرانو نظریات او وړاندیزونه واورېدل او ټینګار یې وکړ، چې حکومت د ولسي اړیکو پیاوړتیا ته ځانګړې پاملرنه لري. نوموړي د علماوو او مشرانو رول مهم وباله او ډاډ یې ورکړ، چې اسلامي نظام به د ټولو افغانانو د شته ستونزو د حل او سوکاله ژوند د زمینې برابرولو لپاره هڅې کوي.

هغه ډاډ ورکړ، چې د راغلو قومي مشرانو او علماوو له لوري د مطرح شویو ستونزو د حل لپاره به اقدامات وشي.

بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۴۴ ګڼه سلواغه ۱۴۰۳ :شماره (۴۴) دلو ۱۴۰۳ :صفحه دوم:دویم مخ



اوونیزه راستنېدنه
عودت هفته نامه

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر
د نورستان ولایت له مشایخو او علماوو سره وکتل.

## د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د نورستان ولایت له مشایخو او علماوو سره وکتل.



په دې ناسته کې د نورستان مشایخو او علماوو د اسلامي امارت څخه ملاتړ څرګند کړ او ويې ویل، افغانان د اشغال له پای ته رسېدو وروسته د اسلامي نظام تر سیوري لاندې ارام ژوند کوي، دوی زیاته کړه، د اسلامي نظام د ساتنې لپاره چمتو دي او د هر هغه چا پر وړاندې درېږي چې د اسلامي نظام د کمزوري کولو هڅه کوي

د نورستان علماوو او مشایخو د بیا رغونې، سرکونو، روغتیایي خدماتو، زراعتي او حیواني کلینیکونو او ښوونیزو بنسټونو په برخو کې خپلې ستونزې له محترم وزیر صیب سره شریکې کړې.

محترم مولوي عبدالکبیر دوی ته د ښه راغلاست تر څنګ د دوی د ملاتړ له امله مننه وکړه او زیاته يې کړه، چې اوس افغانستان له اشغال څخه خلاص شوی او سوچه اسلامي نظام حاکم دی، چې د ټولو افغانانو ګډ نظام بلل کېږي هیڅ څوک دې ځان پکې بېګانه نه ګڼي

هغه ټینګار وکړ، چې افغانان دې د پردیو تبلیغاتو تر اغېز لاندې نه راځي او د هېواد د پرمختګ لپاره به په ګډه کار ته دوام ورکوي

نوموړي وویل: نورستان جهادي تاریخ لري او د افغانستان د نورو ولایتونو په څېر اسلامي امارت ورته ځانګړې توجه لري، محترم مولوي صیب د نورستان ولایت مشایخو او علماوو د ستونزو حلولو په برخه کې ډاډ ورکړ

## رییس اداره هلال احمر کشور قطر در افغانستان، با معین مسلکی وزارت امور مهاجرین دیدار نمود



حسین یونس، رییس اداره هلال احمر کشور قطر در افغانستان با هیات همراهش، با الحاج مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان دیدار نمود.

معین مسلکی وی و هیات همراهش را خوش آمدید گفته بیان داشت: امارت اسلامی افغانستان با کشور قطر روابط نیک و دو ستانه داشته و با روی کار آمدن امارت اسلامی در سرتاسر کشور امنیت بهتر تامین شده و برای موسسات و نهاد های همکار مدد رسان زمینه های خوب در جهت همکاری مساعد شده است.

آقای راشد افزود: افغانستان بیشترین مهاجر و بیجاشده را دارد و تقاضای ما از نهاد های همکار این است تا آنان را در بخش ها ی مختلف کمک رسانی نمایند و از کشور قطر نیز خواهان این هستیم تا برگشت کننده گان اجباری کشور های همسایه را مورد حمایت خویش در ارایه کمک های بشری قرار دهند.

معین مسلکی وزارت امور مهاجرین در ادامه افزود: ما همیشه با کشور قطر همکار بوده و همکاری خواهیم داشت .

وی ازهیات قطری نیزخواست تا پروژه ساخت و ساز شهرک برای مهاجرین در ولایت پکتیا را عملی ساخته تا افراد نیازمند ازآن بهره مند گردند.

حسین یونس رییس هلال احمر کشور قطر در افغانستان گفت: این مسوولیت ما است که برای مردم افغانستان خصوصاً برای مهاجرین که حقوق شرعی و قانونی دارند کمک نمایم.

وی بیان کرد که این اداره در ولایات مختلف افغانستان کمک های بشری را برای مردم رسانیده و هدف ما هم رسانیدن مساعدت به نیاز های بشری است .

آقای یونس از آغاز کار ساخت شهرک برای مهاجرین در ولایت پکتیا در آینده به معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان اطمینان داد.

## ۱۸۹ تن از افغان های مهاجر در کشور پاکستان از حبس آزاد شدند

۱۸۹ تن مهاجر افغان شامل اطفال و افراد محبوس طور انفرادی از کشور پاکستان از حبس آزاد و به کشور برگشت نمودند.

به اساس معلومات آمریت های سرحدی تورخم ولایت ننگرهار و سپین بولدک ولایت قندهار خانواده ها و افراد یاد شده به دلیل نداشتن اسناد قانونی از شهر های مختلف پاکستان بازداشت شده بودند و مدت شش روز الی یک ماه را در بند بوده که پس از دریافت مساعدت های بشری به محلات اصلی شان انتقال شدند.

## نشست کمیته ولایتی توزیع زمین در ولایت لغمان برگزارشد

پنجمین نشست کمیته ولایتی توزیع زمین برای مهاجرین در ولایت لغمان، با حضور اعضای کمیته یاد شده در ریاست شهر سازی آن ولایت برگزارشد.

درنشست یاد شده در مورد پروسه توزیع زمین برای مهاجرین مطابق به طرزالعمل بحث و گفتگو صورت گرفت.

## د سرپل د مهاجرینو چارو آمر مولوي میر عبدالسلام هاشمي شمال زون کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ له مسولانو سره وکتل

دغو مسولینو د بېرته راستنېدونکو لپاره د نغدي مرستو وېش، د تېر کال د پروژو ځارنه او د روان کال د پروژو په اړه د معلوماتو ورکول خپلې موخې وبللې او د مهاجرینو چارو آمریت د همکارۍ غوښتنه يې وکړه.

د مهاجرینو چارو آمر د همکارو ادارو د فعالیتونو مننه وکړه او د مرستو چټکولو او د مهاجرینو وضعیت ته د رسېدنې لپاره یې له آمریت سره په همغږۍ د لا زیاتې همکارۍ غوښتنه څرګنده کړه .

هغه وویل: د مهاجرینو آمریت د ستونزو د حل لپاره د اسلامي امارت د قوانینو او اصولو په پام کې نیولو سره د مهاجرینو چارو وزارت له همکارو موسسو سره په بشپړه توګه همکاري کوي.

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ مسولانو هم د هېواد په شمال زون کې له مهاجرینو چارو آمریت سره په همغږۍ مهاجرینو سره د مرستو او د دوی وضعیت ته د رسېدنې د همکارۍ ژمنه وکړه.

## د بشري مرستو د همغږۍ اداري استازي د غور د مهاجرینو چارو آمر سره وکتل

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداري استازي بلال دولت د غور ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو له آمر انجنیر میر احمد مصمم سره وکتل.

په دې کتنه کې ښاغلي بلال د روان کال د بشري اړتیاوو پلان د غور له والي سره د مهاجرینو چارو آمر ته وړاندې کړ.

د غور ولایت د مهاجرینو آمر دبې ځایه شویو او راستنېدونکو کورنیو د بنسټي اړتیاوو په اړه خبرې وکړې او له همکارو بنسټونو څخه یې ورته د رسېدنې غوښتنه څرګنده کړه.